# په ۲٤ فروری ١٩٤٦ پېښور کښې د اسمبلۍ ممبرانو ته

# د باچا خان تقرير

**پښتون ۹ مارچ ١٩٤٦**

(يادګېرنـه: د باچـا خـان دا تقريـر مـونږ پـه دې غـرض شاملوو چې نن هم په صوبه کښې زمونږ خپل حکومت دے او د فخر افغان د هغه وخت دغه خبرې نن هم زمونږ د اسمبلۍ د ممبرانو او وزيرانو صاحبانو دپاره د لارې مشال کېدے شي.)

زمـا ورونـو! تاسـو تـه بـه دا خبـره پـه ښـۀ شـان معلومـه وي چـې تـر اوسـه پـورې مـا د وزارت پـه معـاملو کښـې مـداخلت کړے نۀ دے او نۀ زمـا دې طـرف تـه څۀ شـوق او مينـه شته او ما اکثر د دې خبرو نـه کنـاره کـړې ده، لـېکن اوس ما ته معلومـه شوه او زۀ پـه دې نتيجـه ورسـېدم چـې کـۀ چـرې زۀ د دې نـه جدا يـم مګـر خلـق زمـا دا جـدائي نـۀ منـي او د دې د ښـۀ او بـد د اثـر نـه نـۀ زۀ خلاصـېږم او نـۀ زمـونږ تحريک، په دې وجه مـا دا خبره ضروري وګڼله چې زۀ ځان نور د دې نه کناره ونۀ ساتم او په دې کښې حصه واخلم. زۀ په خپله خو يو انقلابي سړے يم، موجوده پارليمنټري کارونه د خپل نصب العېن دپاره چې هغـه د ملک مکمله ازادي ده، څۀ دومره فائده مند نۀ ګڼم او هم پـه دغه وجـه مـا د دې خبـرو سره دلچسـپي نـۀ اخسـته، مګـر چـونکې د دې سـره د عـام قـوم د فائـدې او نقصـان تعلق دے او کۀ زۀ هم دغسې نور غېر جانبدار پـاتې شم نو زۀ وينم چې غريبو خلقو ته نقصان رسـي نـو دا مې مناسب وګڼله چې نـور غېر جانبدار پـاتې نۀ شم لـېکن پـه دې لار کښـې زۀ ګـورم چـې زمـا دپـاره ډېـر مشـــکلات دي. زۀ چـــې رښتيا وايم نـو تاسـو خفـه کېږئ او دې خوا مـا خپـل ضـمير مجبـوروي چـې کومـه خبـره ماتـه حقـه ښکاري چې هغـه زۀ تاسـو ته ښکاره کړم. زۀ هم تاسو تـه دغـه خبـره کـوم چـې کومه مولانا صاحب تاسو



ته کړې ده چې زمونږ وزارت به هله د قام دپاره فائده مند کېدے شي چې مونږ دا د ملک يو خدمت وګڼو کـۀ چـرې تاسـو مـا د ځـان سـره پـه دې کـار کښـې شريکول غواړئ نو مونږ له پکار دي چې دا وزارت هله اخلو چې مونږ په دې د خپل غريب قـام فائده او خدمت کولے شو. تاسو ټولو تـه پـه ښـۀ شـان معلومـه

ده چې د الېکشـن پـه وخت کښـې مـا پـه دې صـوبه کښې څومره دورې کړې دي نو د چا نه مې د ووټ سوال نۀ دے کړے او نۀ مې چا سره وعده کړې ده خو زما ضمير ما پـه دې خبره مجبوروي چې غريب قـام مـونږ سره دومره تنګ او غېرت کړے دے نو مـونږ لـه پکـار دي چـې څـومره د دې نـه د غريبـو د فائدې څۀ کار کېدے شي، فائده واخلو او کۀ مونږ پوه شو چې د وزارت نه غريبو خلقو تـه فائده نۀ شو رسولې نو چې بالکل ئې پرېږدو. بله خبره دا ده چې مونږ ټول پـه دې خبره ځان پـوه کړوچې دا زمـونږ د ټول قام يو شريک کار دے او زمـونږ د جماعت يوه شريکه ذمه داري ده نو کۀ چرې مـونږ هر يو کس دا خپل مقصد وګڼو او د يو بل سره پـه مينـه او محبت تعاون وکړو نو مونږ څومره کار کولے شو او کۀ چرې مونږ په يو بل بې اعتباره يو او پـه خپلو کښـې ډلې ډلې يو نو څومره کار کولے شو؟

کۀ څوک وزير وي او کۀ ممبر وي يا خدائي خدمتګار وي چـې دا محسـوس کـړي چـې دا کـار زمونږ د ټول جماعت دے نو کۀ مونږ داسې وکړو نو زمونږ طاقت نور هم زياتېدے شي او د هغې په وجه مونږ د قوم او ملک خدمت هم ښۀ کولے شو.

دا ځل مونږ له په داسې طريقه کـار چلول پکـار دي چې زمـونږ ټول قـام دا خبره ومني چې دا زمـونږ حکومت دے او پـه دې کښې د هر چا اواز شته او د هر يو پښتون اواز اورېدے شي، پـه دې صورت بـه ټول قام زمونږ سره شي او زمونږ طاقت به ډېر زيات شي او زمـونږ تحريک بـه ډېره ترقي وکړي. دويمه خبره دا ده چې په الېکشن کښـې مـونږ سره د صوبې سرکاري حاکمانو څۀ کړي دي، هغه زما نه هېرېدے نۀ شي او څۀ وخت چې ما د ټولې صوبې دوره وکړه اوڅۀ حالت مې وليدو او څۀ اثر ئې په ما وکړو هغـه مـې هـم د ډاکټـر صـاحب (وزيـراعظم[1]) او قاضـي صاحب (وزيرتعليم) نه پټ کړي نۀ دي، بلکې هغوي مې په دې ټولو حالاتو خبردار کړي دي.

زمـا خـو اول اول دا خيـال ؤ چـې حکومـت بـه زمونږ برخلاف صرف پروپېګنډه کوي، مګر ډېر زر راته معلومه شوه چې دا يو لوئے سازش ؤ چې پـه دې کښـې تمـام سـرکاري ملازمـان د وړو نـه تـر لويـو شريک وو او پـه هـره طريقـه ئـې کوشش کولـو چې خدائي خدمتګار کاميـاب نـۀ شي او دا ئـې لا څـۀ کـوي د الېکشـن پـه دوران کښـې چـې د صـوبې حکومت (وزارت) څۀ قسم حکم ورکړے دے، هر يو سرکاري مـلازم د هغـې مخالفت کـړے دے او حکم ئې منلے نۀ دے نو پـه داسې حالاتو کښې کۀ چرې مونږ وزارت جوړ هم کړو نو مونږ څۀ کولے نۀ شو.

زما خو دا رائې ده چې تر څو ګورنر مونږ لـه دا يقين رانۀ کړي چې بيا دپاره به داسې نۀ شي کېدے او هغـې خلقـو لـه چـې چـا د صـوبې د حکومـت دا احکـامو خـلاف ورزي کـړې ده، سـزا ورنـۀ کـړي نـو وزارت اخستل پکار نۀ دي.

دا درې غټې غټې خبرې وې چې زمـا پـه خيـال کښې راغلې وې نو تاسو ته مې مخکښې کېښودې، تاسو له پکار دي چې په دې خبرو غور وکړئ او چې څۀ درته مناسب ښکاري، هغسې قدم پورته کړئ.

(عبدالغفار)

[1] - هغه وخت کښې به ئې وزيراعلې ته وزيراعظم وئيل.